# د کوویډ 19 واکسینونه: پر څه باندې باید پوه شو

| زه چېرته واکسين ترلاسه کولای شم؟ | څه ډول د لیدني وخت وټاکم؟ |
|---|---|
| ستاسو د روغتیا چمتو کوونکی | خپل چمتو کوونکي ته زنګ ووهئ یا د لیدني وخت وټاکئ |
| د ټولنیز واکسیناسیون کلینیکونه | زموږ له وېب پاڼي څخه لیدنه وکړئ: vaccinelocator.doh.wa.gov/ |
| ځایي درملتونونه | یا له 1-800-525-0127 سره اړیکه ونیسئ او د # تڼۍ کېکاږئ. د ژبې مرسته موجوده ده. |
| پاپ اپ یا ټولنیز کلینیکونه | دا بدلون ورکوي تاسو به له خپل کوم ملګري او یا د ټولنې له غړي څخه د کلینیک په اړه واورئ. له هغوی څخه وغواړئ چې نوم لیکنه وکړي. |

## د واکسین ترلاسه کولو له پاره خپلې لیدنې ته باید څه راوړم؟

له تاسو څخه به لاندې شیان وغوښتل شي، خو تاسو اړ نه یاست چې هغه ورکړئ:

- د هویت کارت
- د بیمې کارت
- د ټولنیز خوندیتوب شمېره

د واکسین ترلاسه کولو له پاره اړینه نه ده چې تاسو دې د متحده ایالاتو اوسیدونکي یاست. هغوی به ستاسو د کډوالۍ د حالت پوښتنه ونکړي.

شخصي معلومات به یواځې د روغتیایي موخو له پاره وکارول شي.

## د واکسین لګښت څومره دی؟

تاسو ته واکسین په وړیا ډول درکول کېږي. له تاسو څخه باید پیسې وانخیستل شي او نه بل درکړل شي.

## آیا زه دویم شاټ ته اړتیا لرم؟

ځیني واکسینونه دوه دوزه دي. کله چې تاسو په بشپړه توګه واکسین شئ، دوه اونۍ وروسته به تاسو تر ډېره خوندي وئ. ځیني خلک د بو بوسټر دوز ته اړتیا لري.

| | |
|---|---|
| Pfizer-BioNTech | دوه دوزه، د 21 ورځو په واټن |
| Moderna | دوه دوزه، د 28 ورځو په واټن |
| Johnson & Johnson | 1 دوز |

## جانبي عوارض څه دي؟

ښايي تاسو ته به جانبي عوارض پيښ شي.



**ستاسو په بدن کې:**

- ستړيا
- سر درد
- د عضلاتو درد
- ساړه
- تبه
- زړه بدوالی



**تاسو چې په خپل مټ د واکسين ستنه ولګوله:**

- درد
- سور والی
- پورته ټوپ وهل

هغه واکسينونه چې دوه دوزه لري، تر دويم دوز وروسته جانبي عوارض سختيږي.

که تاسو د واکسين پر وړاندي حساسيت وښود نو له 911 شمېرې سره اړيکه ونيسئ. تاسو کولای شئ په V-safe کې نوملیکنه وکړئ تر څو د هر ډول جانبي عوارضو راپور ورکړئ: vsafe.cdc.gov.

## د کوويډ 19 واکسين څه کوي؟



د کوويډ 19 واکسين ستاسو بدن چمتو کوي چې د ناروغۍ پر وړاندې دفاعي تدابير ونيسي چې تاسو له ناروغۍ څخه وژغوري.

## آيا واکسينونه خوندي دي؟

هو. ټول واکسينونه پر **لسګونه زره** کسانو آزمايل شوي دي.

دا واکسينونه چې د بېلا بېلو نژادونو پر خلکو او هغو چې ډول ډول ناروغۍ لري لکه د وزن ډېروالی، شکر، د زړه ناروغۍ، د ځيګر ناروغۍ او اچ آی وي، آزمايل شوي او خوندي دي.





د روغتيا ډيپارټمنټ په منظم ډول د خونديتوب راپورونه ګوري تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د خونديتوب په اړه انديښني نشته.

## آيا يو واکسين له بل څخه غوره دی؟

موږ د واحد شاټ يا ستنې Johnson & Johnson (J&J)واکسين پرځای د mRNA COVID-19واکسين

(Pfizer-BioNTech يا Moderna)سپارښتنه کوو.

که څه هم که چيرې تاسو د نورو واکسينو ور نه ياست يا يې د ترلاسه کولو اراده نه لرئ د J&Jواکسين لا هم شتون لري. د خپل انتخابونو په اړه د خپل روغتيا پاملرنې وړاندې کوونکي سره خبرې وکړئ.



## ولې بايد واکسين وکړم؟

واکسين کول له تاسو سره مرسته کوي چې په خپل کاري چاپېريال کې خوندي پاتې شئ او له خپلې کورنۍ او ملګرو سره يو ځای و اوسئ.

د دې امکان به ډېر کم وي چې تاسو د کوويډ 19 له امله سخت ناروغ شئ، په روغتون کې بستري شئ او يا مړه شئ.



**DOH 348-804 December 2021 Pashto**

په يوه بل فارمټ کې د دغه سند د ترلاسه کولو د غوښتنې له پاره له 1-800-525-0127 سره اړيکه ونيسئ. کاڼه او هغه پيرودونکي چې د اورېدو ستونزه لري، کولای شي چې له 711 (Washington Relay) سره اړيکه ونيسي او يا د civil.rights@doh.wa.gov لارې برښناليک ور واستوي